**San Juan Unified School District**
*Special Education Department*
4825 Kenneth Avenue, Carmichael, CA 95608
P.O. Box 477, Carmichael, CA 95609-0477
Telephone: (916) 971-7525 Fax (916) 971-7532

**Kent Kern, Superintendent of Schools**
**Vanessa Adolphson, Director of Special Education**

د 2021 مارچ 5

محترم والدین/سرپرستانو:

دا دمخه لیکل شوې خبرتیا (PWN) د هغې خبرتیا په پرتله چې تاسي د 2021-2020 ښوونیز کال په بیل کې ترلاسه کړې، اضافي معلومات، او همدارنګه مختلف معلومات وړاندې کوي چې ډیر د پام وړ بدلونونه د هایبراېډ زده کړې بیلګې له لارې مخامخ حضوري خدمتونو وړاندې کولو، د مخامخ حضوري ښوونې د ترکیبي زده کړې بیلګې له لارې د زده کونکو بوختولو، غیر هم مهاله زده کړو کې راوړل کیږي. دا هایبراېډ د زده کړې بیلګه د ټولنیز واټن غوره پالنې لپاره په یو وخت کې په هر ټولګي کې د زده کونکو شمیر راکموي.

په کلکه پرخای کړې پلانونو سره، ولسوالی د کاونټي او د ایالت تایید لپاره د خوندیتوب پلانونو سپارلو باندې کار کوي. د ښوونځي سایټونه دا لیږد پیلوي او د زده کونکو او والدین لپاره د هرکلي فعالیتونه چمتو کوي. د دې برنامو په اړه نور تفصیلات به مستقیم د ښوونځي سایټونو نه راځي.

د هایبراېډ بیلګې د پیل نیټې په لاندې ډول دي:

| **که چیرې د سکریمانټو کاونټي په ... سره دریف کې داخل شي** | **نو بیا K-5 او خپلواک 6ام ټولګي بیرته په ... مخامخ حضوري زده کړې ته راستنیږي** | **ډله بندي شوي 6ام ټولګی، او 12-7 ټولګي به په ... مخامخ حضوري زده کړې ته راستنیږي** |
|---|---|---|
| مارچ 16 | مارچ 22 | مارچ 22 |
| مارچ 23 | اپریل 5 [د پسرلي رخصتي له امله] | اپریل 5 |
| مارچ 30 | اپریل 5 | اپریل 12 |
| اپریل 6 | اپریل 5 | اپریل 12 |
| د اپریل 6 نه وروسته کوم وخت | اپریل 5 | سره ردیف ته د کاونټي ننوتلو نه 5 ورځې وروسته |

هایبراېډ بیلګه د ټولو هغه زده کونکو لپاره د مخامخ حضوري او مجازي ښوونې ترکیب وړاندې کولو لپاره ده څوک چې مخامخ حضوري زده کړې ته بیرته ستنیدل انتخابوي ترڅو نصاب، اړوند خدمتونو ته لاسرسی او د IEP اهدافو کې پرمختګ ملاتړ شي.

د San Juan Unified School District هایبرېایډ بیلګه د ټولګي سطحې په پام کې نیولو سره په اونۍ کې دوه ورځې مخامخ حضوري ښوونه وړاندې کوي چې په هره ښوونیز ورځ کې به لږترلږه 2 2/1 ساعتونه وي. د غرمې خواړه به زده کونکو ته د ښوونځي نه د تګ پرمهال ورکول کیږي. هغوی چې په شرایطو برابر دي، د هغوی لپاره ټرانسپورټیشن کې به د دوه طرفه سفر لګښت یا د ښوونځي بس انتخاب شامل وي. په اونۍ کې دوه ورځې "په ودانۍ" کې سربیره، د تکرار کارمندانو لخوا وړاندې کیدونکې تخصصي اکاډمیک ښوونې او اړوند خدمتونو د مجازي لارې وړاندې کیدل به دوام ولري ترڅو د ایالت، ځایی او ولسوالی روغتیایی لارښوونې په پام کې ونیول شي.

مدیر او کارمندان به د اړتیا او اجازې له مخې به سایټ کې وي، او د بیړني حالت په صورت کې به مداخلت کوي.

**په IEP کې بدلون:** دا PWN د هغه زده کونکو کورنیو ته خبرتیا ورکوي څوک چې د هایبراید بیلګې لاندې بیرته ستنیږي. په اونۍ کې دوه ورځې مخامخ حضوري ښوونې سربیره، زده کونکي به په اونۍ کې نورې دوه ورځې هم مهاله مجازي ښوونه، او په اونۍ کې یوه ورځ غیر هم مهاله ښوونیز ملاتړ ترلاسه کوي. دا د خای په خای کیدو بدلون ندی ځکه چې زده کونکی به لاهم د ټولګي ښوونکي او همدارنګه د مجازي لارې ښوونه ترلاسه کوي. په هایبراید مخامخ حضوري بیلګه کې ګډون کول په خپله خوښه او داوطلب دي او کورنۍ په بشپړ ډول د لیرې لارې زده کړې بیلګه کې د پاتې کیدو انتخاب لري، د همدې لپاره دا PWN د دې داوطلب یا په خپله خوښه وړاندیز نه د والدین خبرولو کار کوي؛ په IEP کې به بدلون ورنکړل شي.

**د خدمت عرضه کولو بیلګه:** د تکرار کارمندانو لخوا وړاندې کیدونکې تخصصي اکاډمیک ښوونې، د وینا، حرفه ای تراپي، له تعلیمي پلوه اړوند د رواني روغتیا، لید، DHOH خدمتونو، او فزیکي تراپي وړاندې کول به پدې وخت کې د مجازي لارې دوام ولري تر څو د California Department of Public Health د COVID خوندیتوب لارښوونې په پام کې ونیول شي.

**نور ملاحظه شوي انتخابونه:**

1. ټیم په اونۍ کې د مختلف ورځو مخامخ حضوري یا د لیرې لارې زده کړې ملاتړ پشمول پروګرام ملاحظه کړی دی. دا پلان نور ونه سپړل شو ځکه چې دې د California Department of Public Health د COVID خوندیتوب لارښوونې په پام کې نه نیول کیدو پایله درلودلی شوه.

په اخر کې، مهرباني وکړئ خبر اوسئ چې د معیوبیت لرونکي ماشوم د والد (والدین) یا سرپرست (سرپرستانو) په حیث تاسې د دې لیک سره ضمیمه شوي د والدین حقونو او د طرزالعمل خوندیتوبونو له مخې محافظت شوي یې. مهرباني وکړئ د دې لیک پورې اړوند یا د حقونو ضمیمه شوي خبرتیا اړوند پوښتنو په تړاو خپل د کیس مدیر سره اړیکه ونیسئ.

موږ دې بې ساري وختونو کې ستاسې د ملتیا او پوهاوي ستاینه کوو.

په درنښت،

ونیسا ادولفسن (Vanessa Adolphson)

رییس، ځانګړې تعلیم

Enc.